اوان شاالله ډېر کولاي شي چي دخپل هيواد دغني امکاناتو په درلودلوسره به داستثمار (گټي اخيستلو) دنوي قانون په رڼاکي دنوروپرمخ تلونکوهيوادونو سره يوځاي دمسابقي په شريفانه اونيکه دايره کي گام واخلي .

دیادولووړخبره داده چي :

دسودان اوپاکستاني وزارتونو مشترکي کميټي څخه دسودان طرف په هغه کنفرانس کي چي په جولاي ١٩٩١ کي په اسلام آباد کي دائرشوي وو پدي خبره اصرار راوتاکيدوکړ چي سودان هيله من دي ددواړو هيوادونو ترمنځ مشترك پروگرامونه اوپروژي په سودان کي دننه په عام اوخاص توگه په لاندي برخوکي پلي اوفعالي شي.

لکه داويدلو ، قند ، سمنت، کيمياوي سره – پوستکو صنعت زراعتي ماشين الات – د ريل خط غزه ول ، فولاد شيشه ، کاغذ ، سيراميك اوکانونو پروژي .

په پورتني ذکرشوي پروژوکي برخه اخستل دکمپنيو، فابريکو، ماشينونو، دڅاگانو ايستلوالات اوتعميراتي مواد ودواردولو له لاري ترسره کيدلاي شي.

والسلام

دلته خلك په ظالم اومظلوم يوډول ژاړي

محمد رحيم ځنځير

که خاندم خندا نه راځي که ژاړم شرمېږم په رښتيا دژړانه هيڅ کار نه جوړېږي که په ژړا کار جوړېدلي نود ښځو په ژړاګانو به اوس ټول مړي ژوندي شوي واي .

دوړانو او وېجاړو له پاره تدبير پکاردي نه چې ژړا .

دوخت حاکمانو ، دانقلاب پاسبانانو - دتحريك مخکښانو دصلاحيت اوقدرت خاوندانو تاسوته وايم ! دخپلو شهيدانو دوينو په خاطر د يتيمانو دبي وزلي په خاطر ، دکونډو رنډو د دربدري په خاطر ، د مهاجرينو د فقر اوبيچاره ګي په خاطر دلږ انصاف نه کار واخلئ د سپينواوبدوتميز وکړئ ، مونږ درنه پيسې نه غواړو چوکي ستاسو ، موټر ستاسو ، دتور اوسپين حساب درسره نه کړو تاسو زمونږ امامان اومونږ ستاسو مقتديان ،کورونه مونږکار نه دي جهاد او شهادت ته هروخت تيار يو . خداي (ج) ددنيا دنظام اوانتظام له پاره دوه شيان پيداکړي دي چې يو ته حکمت اويل ته حکومت وايي . دحکومت سره حکمت تړلي وي که حکمت نه وي نو تش په کوټك حکومت کول ګران کار دي . په کوټك کلي نه جوړېږي که جوړېداي نو روسانو به تراوسه تيمايي نړي له ستوني تيره کړي واي.

هوا مونږ درنه پوښته غواړو هغه داچي ا زمونږ په زخمونو پټي اوملهم ولګوي نه داچي زمونږ په زخمونوکي مخلوط شوي مالګه اومرچ واچوي نه دا چي دثواب په عوض عذاب راکړي لکه چي همداسي مونږ پخپلو سترګو ليدلي . له زخم ځخه زمونږ هدف دشهيد وينه ده له مخلوط شوي مالګي اومرچو نه دلته دهغوي له قاتلانو حمايت اومرسته ده که دشهيد اتو له وارثانو سره مرسته اوکومك نشوکولي نو له دښمنانو سره يې هم بايد په يوه دسترخوان ووډي ونه خوړو ځکه داوينه دومره بي ارځښته وينه نه ده دا دحکمت وينه ده داد شرافت او فضيلت وينه ده داوينه چي په کومه ځمکه تويه شوي هلته انسان دانسان له اسارت نه خلاص شوي او يوازې يو واحد خداي (ج) ته يې دبندګي سرتيټ کړي دي.

زمونږ دوستي ، د ښمني ، وروروري خپلوي اوکليوالي له خلکو سره داسلامي عقيدي په اساس ده نه دوراثت په اساس راځي له دي کليوالي نه تېرشو داسلام اوعقيدي په اساس خپله ورور ولي اوکليوالي جوړه کړو.

څوموده دمخه دمهاجرينو يوې مېنې ته ولاړم چې هلته ټول کورونه دمهاجرينوپه اختيارکي دي . بل هيڅوك پکي دخل اوغرض نه لري . په نظم لري هيڅوك يې حمايه سرنه شي . خوزولي په نږدې خلکو سره هرڅه ښه خوږه ښکاره ځوك هيڅ نشي ويلي.

زه هم له يوه وروورسره کور ته ولاړم په کورکي يې کېښناستو دلوډسپيکر اوازمي تر غوږ شو اودا چغه تري پورته کيده ضروري اعلان واوري ،ضروري اعلان ، مادکورخاوندته وويل : پاڅه بېرون ولاړ شه دلوډسپيکر اواز راځي اوهمدا نعري وهي ضروري اعلان واوري ضروري اعلان ،خداي (ج) دي خبرکړي چي کرم بيابيا په شهادت رسيدلي دي اوکه څنګه ! دکورخاوند بېرون ولاړ ،څوډقيقي وروسته راغي ويې ويل : وروره ستاسو خبره سمې ده فلاني قوماندان په ننګرهار کي دملحد رژيم دپلويانو له خوا شهيد شوي دي نن يوه نيمه بجه دهغه شهيد جنازه ده که ستاسو خوښه وي دجنازي لمانځه ته به يې ولاړشوما هم ورسره ومنله کله چي ماسپښين شو لمونځ موادا کړ بيا وروپسې جنازه تياره وه دجنازي لمونځ هم مونږاداکړ په دريمه ورځ دتوموړي شهيد فاتحه اعلان شوه دفاتحي په ورځ بيا ورغلو - هلته دماشومانو او ښځو ژړاګاني اوريدل کيدي زيات تحريکي او پخواني مبارزين يې فاتحي ته راغلي وو چا به دتوموړي شهيد دبيوزلي اوفقيري په حال افسوس کاوه ، چا به يې په ځواني ژړل ،چابه يې دماشومانو دتربيي اوزده کړي په هکله تبصري کولې اوځنو به يې دښځو راتلونکي ژړله . هرسړي دخپلې پوهي په اندازه خوله خوزوله . تر دولسو بجو فاتحه ختمه شوه هرسړي په خپله لېدلي لاړروان شو له دې پيښې ځخه څو ورځې لاتيري نه وي چي په همدي مېنه کي بيا د لوډسپيکر اواز پورته شو او چغې به يې وهلې چې دفاتحي اعلان واوري دفاتحي اعلان ، خلك هلته ولې ولې ور روان وو عين کيسه هلته هم جوړه وه ، دلته هم دماشومانو ژړاګاني اودښځوفريادونه اوريدل کيده .

چاپي په ځواني ژړلي ،چاپي دکور والاپه حال افسوس کاوه ،چاپي پخواني معاش.

اوچوکي ژړله اوځني کسان يې له مرګ نه په تشو بش کي وو.

بيا ماله يوچا ځخه پوښتنه وکړه چي وروره په دي مېنه کي څه شوي چي هره ورځ پکي وير او ژړاوي هغه راته په ځواب کي داسي وويل : هو ! دلته دومره فاتحي واخستل شوي هغه مخکني فاتحه ديوقوماندان وه چي په جلال آباد کي دملحد رژيم دپلويانو له خوا په شهادت رسيدلي و دادوهمه فاتحه ديويل ځوان وه .

چي هغه زمونږ د مجاهدينو په ميزائيلو لګيدلي اوله منځه تللي دي دملحد رژيم دپلويانو ځخه وتراخره يې هغوي ته په ميړانه خدمت کاوه ترڅوپي ځان پري قرباني کړ!!!

هوا ددواړو مرګ فرق کاوه ، يو هغه ځوك وچي دهغه په قهر به خلکو جنازي درولي اويل دهغه چامړي وچي خلك تري تنبتيدل خو دلته ددواړو فاتحه يوډول اخستل کيده هغه چي زمونږ دمجاهدينو په ميزائيلو له منځه تللي وځني ايانداره !!! يې فاتحي ته ناست وو چاپه ورته دقرانکريم تلاوت کاوه اوځينو ورته دخداي (ج) نه دمغفرت غوښتنه کوله .

ځني ساده لوحويه بيا داسي تبصيري پري کولې داخلك چي هلته اوسيږي ملامت نه دي يابه معلم وي ، يابه ډريوروي ، يابه ضابط وي ،يابه عسکروي اويا به ملازم وي.

سوال اوس دلته پيداکيږي هغه ډريور چي دملحد رژيم پلويانو ته شراب وړي ، د هغوي ناروغان او زخميان روغتون ته رسوي ،دهغوي وسلي له يوځاي ته بل ځاي ته انتقالوي هغوي ته دلوږي په وخت کي خوراکي مواد رسوي دامجرم نه شو وژل يې روانه دي . هغه معلم چي دهغوي اولاد په کفري لارسموي هغه مجرم نه شو اووژل يې روانه دي . هغه ضابط چي دهغه په قوماندو زمونږ مجاهدين په شهادت رسيږي هغه مجرم نه شو او وژل يې روانه دي . هغه ملازم چي دنجيب پلويانو ته دشرابو بوتلونه ډکته پورته کوي دهغه مرګ روانه دي.

هوا يوازي مرګ دهغه چارو ادي چي هغوي دنړيوالو د نجات لپاره قرانکريم په شاګرځوي اوپه دنياکي دانسانيت دحريت له پاره دقران حاکميت غواړي له دي ځخه وروسته يوه بله ورځ ديو شهيدله زوي سره دشهيدانو د ورثه ودفتر ته ولاړم دشهيد دزوي دلوږي اوتيستي کيسي مجبوروکړي وم هلته چي ګورم په يوه فورمه مي سترګي ولګيدي فورمه مي رااوچته کړه چي ګورم دهغه چافورمه ده چي په ننګرهار کي زمونږ دمجاهدينو له خوا وژل شوي دي.

له دي ځاي ځخه بويل ځاي ته ولاړم هلته مي په ديوال باندي پوسترونه ليدل چي ددي وژلي پوسترهم دشهيد اتو په قطارکي چاپ شوي اودشهيدلقب ورکړل شوي دي . زه حيران شوم چي خدايه (ج) شهيد څوك دي اومرڅوك دي که څوك له نجيب نه دفاع کوي ووژل شي هغه هم شهيد شو اوکه مونږ داسلام نه ددفاع په خاطر ووژل شو هم شهيدان شوو ،کله چي دادواړه شهيدان شول نومړ څوك شو ؟ تاسو اوس مونږ ته فتواي راکړي که دهغه کسانو وژل مونږ ته روادي چي هغوي اوس هم له نجيب نه دفاع کوي ،هلته ورسره يوځاي اوسيږي يايي عسکري کوي يايي ډريوري ،ياضابط اوخوردضابط وي .

نوبيا يې دلته فاتحه ولي اخلو اوکه دهغوي وژنه مونږ ته ناروا او زمونږ هغوي ته روادي نوفتوي صادرکړي چي دمظلومانو مرګ روادي او ظالمان حق په جانب دي اوکه يې وژنه اوقتال مونږ ته جايزوي نو بيا ولي ورته خلك دمغفرت دعاګاني کوي ماخوهيڅوك هم داسي نه دي ليدلي چي څوك دي ظالم ته دمغفرت دعا وکړي اوکه بيا له ځينو پوښتنه وکړي چي داعمل ناروادي په ځواب کي وايي ياره دکوراوکليوالي خبره ده !!!

څه وکړو افسوس په دي خبره کمونستانو دکمونيزم دبقاله پاره کور اوکلي وراناوه خوبرعکس مسلمانان اسلام ورانوي کوراوکلي جوړوي همدا دکوراوکلي خلکو پرون تاسو داسلام په جرم وژلي . ستاسي شتمني يې لوټولي اوحتي ژوندي يې حکومت ته لاس نيولي ورکولي . همدا چي نن ورته په فاتحه کي له خداي (ج) نه مغفرت اوښتنه غواړي سبا به بيادرته همدي دهيواد دننه يې دوژل شوي ورور انتقام اخلي ،هغه تريرون پوري ستاسو په دين ملنډي وهلي اونن تاسو ورته دمغفرت دعاګاني کوي نوله دي به لوي ظلم چيري وي؟. دلته خلك په ظالم اومظلوم يوډول ژاړي.

حمايت ازظالم ظلم است

نورالله حبيب

روزگذشته خواستم بديدن استادم مشرف شوم ودردفتركارش وي را ملاقات نمايم وضمناً ازنظرايشان درمورد آوازه گرمي كه درين اواخر غرب ميخواهد به همدستي عوامل مزدور خود مهره فرتوت وپوسيده (ظاهرشاه) رابرگرده ملت مجاهد مالمحميل نمايد آگاهي حاصل كنم .

وقتي آنجا رسيدم همان موضوع را كه من خواهان معلومات بودم يعني روي صحنه آوردن ظاهرشاه موردبحث ايشان بود. هريكي ازهمكاران ايشان بطور جداگانه نظرخود را دررابطه اظهار مينمود . اكثربرادرانيكه درآن دفترايفاي وظيفه مينمايند ميگفتند . خوب است ظاهرشاه بيايدا چونكه رهبران جهادي ما درطي چهارده سال جهادومبارزه مؤفق بكاري نشدند ونتوانستند كه وحدت همگاني رابوجود بياورند . گرچه در رابطه سيمينار ها وكنفرانس هاي متعددي ازطرف علما ودوستان جهاد افغانستان دايرگرديد وقطعنامه ها ي زيادي درمورد صادرشد واتحاد هاي زودگذري بوجود آمد . مگرمتاسفانه بعداً گام عملي نبرداشتند وبه اثرمداخلات داخلي وخارجي ازبين رفت گرچه ملت مجاهد ومؤمن ماآز سالها به اينطرف با اخلاص كامل دربرابرپيام رهبران جهادي شان جواب گفته وبحكم ايمان وعقيده راسخ درمقابل تبليغ وتوطيه هاي دشمنان فريب نخورده وهميشه به دنكردند !!

اينكه رهبران جهاد نتوانستند متحد شوند عللي دارد . متاسفانه دخالت ها ودست اندازي هاي دشمنان اسلام نگذاشت تاآنها متحد شوند وبامتحد باقي بمانند اين مسئله قابل تشويش وشكايت است وازهمين خاليگاه دشمنان اسلام استفاده تبليغاتي نموده اند اما خداوند (ج) هركس را به اندازه توان وقدرتش مكلف ساخته است وآنها هركدام بنوبه خودكوشش وسعي را بخرج داده اند . وجرم متحدنبودن اين نيست كه براي خود ومردم رنجديده و مومن خود دوباره دورسياه را بخواهيم . مطمئين باشيد كه باآمدن ظاهرشاه جنگ خاتمه نمي يابد بلكه شديد تر خواهد شد . وظاهر شاه عامل تمام بدبختي هاي وارده بالاي ملت مؤمن ماورشد دهنده مكتب الحاد ميباشد.

ازكار هاي جنايت بار وغير اسلامي اوفعال ساختن اولين فابريكه شراب سازي ،بي حجابي جبري زنان مسلمان افغانستان ، سرزنش علما ي دين وحتي به درجه بي ادبي وتوهين بمقام حضرت پيغمبر(ص) چاپ كاريكاتور مردنه زنه در روزنامه دولتي (اصلاح) وبالاخره زمينه سازي براي كمونيزم وبقدرت رسيدن آنها وتجاوز مستقيم روسها بركشور اسلامي مابود ، اوبه ملت ما مصدر خدمتي نشده است. زندگي بزرگان دين وعلما تاچه حد اسفبار بود و معارف مابدست بيگانگان قرارداشت. مثلاً پوليتخنيك را به روسها ليسه استقلال را به فرانسوي ها ، ليسه نجات رابه آلمان ها ،ليسه حبيبه را به آمريكا يي ها وليسه نادريه رابه هندوستاني ها سپرده بود تاهمان مملكتي كه سرمايه گذاري وفعاليت مينمود بزعم خود اولاد مسلمان وطن ما را تربيه بنمايد تا در اخير بعضي ها اجنت وجاسوس همان مملكت شوند مثل تره كي وامين ،ببرك ،نجيب ،وغيره كه عملاً شاهد آن بوديد امروزظاهرشاه را چه كسي وكدام مملكت ميخواهد؟

واضح است اورانجيب ،روس ها ،غربي ها وكشورهاي كه منافع شخصي ومنطقوي خود رادرنظردارند وبالاخره بيگانگان دعوت مينمايند.

رضايت به آمدن ظاهرشاه را ازنگاه ديني آن غور ودقت كنيم : رضايت به خاين وفاسد خيانت وفساد است وحمايت ازظالم ظلم وجنايت است وبالاخره دادن فرمان اميران جهادي شان گوش داده وباتقديم كردن يك ونيم مليون شهيد وصدها هزارمجروح ومعلول وازدست دادن همه هستي ودارايي خود وده ها تكاليف جهاد وهجرت برآن عمل كردند ،ولي درمقابل از رهبران جهاد خواسته اندكه اختلافات ذات البيني خويش راكنار گذاشته دست اتحا دواخوت بهم دهند .

تاباشد بايك اتحادقوي پايه هاي لرزان رژيم مزدورملحد نجيب ازهم فروريزد ويك حكومت اسلامي كه خواست فردفرد ملت مؤمن ومجاهد ما ميباشد تحقق يابد.

بدبختانه تااكنون مؤفق به اين امرمهم واساسي كه خواست هميشگي مردم وملت مجاهد ماست نشده اند.

درنتيجه عدم وحدت ايشان زمينه براي آوردن ظاهرشاه مساعد شده كه ازطرف غربي ها وهمكاران شان بشدت ازطريق رسانه هاي خبري تبليغ مي شود .وحتي كشورهاي همسايه ومسلمان براي آن پلان وبرنامه ميسازند وازآن دعوت بعمل ميآورند ،چرا ؟

درهمين لحظه استادم سخنان خودرا آغازنموده گفت : برادران ،شما شخصيت هاي جهادي هستيد ، هرفرد شما سالها درسنگر جهاد نموده ايد ومردم مسلمان رابه جهاد و مبارزه عملي دعوت نموده ايد .

هرخانواده مسلمان يك باچند شهيد درراه خدا تقديم نموده كه تعداد شهدا به بيشتر ازيك مليون ونيم ميرسد وشمامهاجرين، زيرخيمه ها ودشت هاي سوزان وهواي گرم زندگي هجرت رابهزاران مشكلات ومضيقه هاي گوناگون اقتصادي ومحيطي بسربرده ودرمقابل مكتب كفروالحاد وكمونيزم قيام نموده ايد وبرادراني درقيد زندان داريد همه وهمه بخاطر چه ؟

ثمره همه اين چهارده ساله جهاد عملي وجانفشاني ها ،خون شهداوانقلاب اسلامي ما آيا آوردن ظاهرشاه وحكومت ساخت غرب ميباشد ؟ تعجب ميكنم ! كه چطور شما همه چيز ها وبدبختي ها رانا ديده گرفته وبه آوردن وحكومت ظاهرشاه تن درميدهيد.؟

وقبول ورضايت شما درموردظاهرشاه براي فرد فرد شما وهمه مهاجرين ومجاهدين مؤمن ما انتحار سياسي است . آنهم بسبب اينكه چرا رهبران جهاد اتحا

محصول ثمره چهارده ساله جهاد ومبارزه بدامان ظاهرشاه گناه نابخشودني است .

اين مكروحيله عليه جهاد ادامه دارد . بگذاريد دشمنان جهاد بت ها بتراشند ان شا االله مجاهد مومن مابفضل ونصرت الهي بت هاي شانرا خواهند شكستاند چنانچه بت كمونيزم بدست مجاهدين مادرجهان شكسته شد ، مزدوران آنها بايد پي ببرند كه امريكا به سرنوشت بدتراز روس مواجه خواهد شد . بعدازختم گفتار استادم برادران وهمكاران دفترشان همه قناعت نموده وتشكرگفتند.

استعمارغرب وشرق ملت مؤمن ما را به اثرتبليغات زهراگين ووسيع رسانه هاي خبري خوددرمقابل رهبران جهاد تحريك مينمايند كه (رهبران جهاد اتحاد نتوانستند حكومت هم نمي توانند) وباجنگ كردندو حكومت كردن را نمي دانند ،بايد شخص ديگري كه به كارهاي حكومتي ميفهمد،روي صحنه بيآيد وزمام امورمملكت رابدست گيرد.

درحاليكه رهبران جهادي ماهر يك بنوبه خود مردم مؤمن مارابجهاد دعوت نموده ودرقسمت اتحا دووحدت نهايت كوشش نموده اند وبعضي تنظيم هاي دلسوزومخلص بجهاد براي وحدت تلاش وتاكيد نهايي بخرج ميدهند ومتقبل خسارات ومشكلات زيادي شده اند.

حالاغرب احساس خطرمي كند كه اگر واقعاً حكومت اسلامي باعقيده پاك در افغانستان تشكيل گردد ، اين تحريك درجهان به يك قوت نيرومند اسلامي مبدل مي شود.

فلهذا درين مجاهدين تخم نفاق وبدبيني پاشيده ومزدوران زرخريد خود را بالاي ملت مالمحميل مينمايند.

حضرت ابوبكرصديق (رض) ازنگاه ديگران

ن نوري

اسم وكنيت :

اسم اصلي شان عبدالله بوده ، ليكن به كنيت ابوبكر (رض) آنقدر شهرت يافتندكه اسم اصلي آنرا تحت الشعاع خودقرارداد . زمخشري نوشته كه : اورا به نسبت تقدم درامورنيكو وخصال نيكو (مبتكر) باابوبكرگفته اند . وي درزمان جاهليت نيز به همين نام معروف گرديده بود اكنون مي بينيم ديگران درباره ايشان چه گفته اند !

سرويليم موردراثرمشهورخودبنام (عروج وزوال ومحوخلافت) مي نويسد : درذهن وقلب حضرت ابوبكر (رض) حتي تصوري ازشان وشوكت شخصي وجودنداشت درحاليكه وي. داراي صلاحيت واختيارات تامه امارت وخلافت بود . ودرمقابل هيچ مرجع ديگر(اداري) جوابده ومسئول نبود: وي همه همت وقدرت خودرا براي خدمت وترقي اسلام متمركز ساخته بود تابه اسلام ومسلمين امن وآرامي واخوت پديد آيد، بزرگترين رمز پيروزي حضرت ابوبكر (رض) ايمان كامل برنبوت حضرت محمد صلي اله عليه وسلم بود . وي هميشه بمردم مي گفت :

" مراخليفه خدانگوئيد . من خليفه رسول الله صلي الله عليه وسلم هستم "

حضرت ابوبكر(رض) درهرامري نظربرآن داشت كه حضرت پيامبر عليه الصلوة والسلام ، درآن امرچگونه عمل فرموده بودند ، ودرطول حيات خويش پابند همين اصول بود. آنچه كه حضرت نبي اكرم صلي الله عليه وسلم ، عمل باامرفرموده بودند، باتعميل آن همه مخالفت ها وآشوبگري ها را ازبين برده ودرتحكيم واستحكام مجدد دين مقدس اسلام سعي زياد نموده واساس آنرا استوارساخت .

اگرچه دوران خلافت حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ، خيلي كوتاه بود امابدون شك ميتوان گفت كه درميان مسلمين بعدازحضرت محمد (ص) مسلماني وجود ندارد كه درايمان وعمل نسبت به ابوبكر (رض) بالاتر ومقدم ترباشد .

لين پول مي گويد :

ابوبكر (رض) درهنگام فيصله هايش ، متين وعادل مي بود، شخص رقيق القلب وكريم النفس وسرشار ازجليه ايمان وعمل به اسلام بود ." سعدي ان اماسكس "

ساين اوكربي گفته است :

ابوبكر رضي الله عنه ، هرگز وهرگز پولي دربيت المال نيندوخت ، بلكه درهرشب جمعه پول جمع شده را ، بالاي مجاهدين تقسيم مي نمود ، بعدبه امداد محتاجان و بينوايان مي پرداخت وي به حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها گفته بودكه : ازهمان روز برشماردكه وي بحيث خليفه مسلمين انتخاب گرديده است ، تابه همگان آشكاراشود كه وي چه چيز ها وچه حدازبيت المال اخذ نموده است ، وي همه مبلغ جمع شده رابرمسلمانان تقسيم نمود وبراي خود سه درهم گذاشت ، تاازكماني مسلمانان سرمايدارنگردد. مجموع حساب عمومي آن پنج درهم گرديد . حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وقتي ازين موضوع مطلع گرديد فرمود : خداوند بزرگ ابوبكرصديق (رض) را غريق رحمت خودبسازدكه براي جانشينان خويش چنان سرمشقي گذاشت كه تقليد ازآن مشكل و خيلي مشكل است .

ايچ ، جي، ويلز : در (هستوري آف دي ورلد) مي گويد :

(ناگفته نماندكه اين مورخ عيسوي ، تعصب بي اندازه اي درمورد اسلام دارد) .

درتبليغ وتشريح دين اسلام ، دوست حقيقي وجانفداي راستين محمد(ص) ابوبكرصديق (رض) حيثيت روح وروان رادارااست ، دوستي ووفاداري اين چنان گذشته كه اگرهر امري محمدصلي الله عليه وسلم ، نمود، حضرت ابوبكر (رض) بي چون وچرا براي تعميل آن سرتسليم خم نمود . اموري راكه بعدازرحلت پيغمبر اسلام عليه السلام ، به اثر تدبير ودوراندیشي وعزم وايمان كامل به انجام رسانيده است ، كوه هاي بزرگ درمقابل آن بلرزه مي آمد . نامه هاي كه محمد (ص) درسال ٦٢ ع عنواني شاهان وفرمانروايان عالم فرستاد . حضرت ابوبكر(رض) صرف باقواي سه باچهارهزارنفري مسلمين ، آرزوي آقاي خود (محمد «ص ») راجامه عمل پوشانيد.

وان كرايمر مي گويد :

حضرت ابوبكر (رض) بعدازرحلت رسول الله صلي الله عليه وسلم ، خليفه تعين شد . اختيارات كاملي رابحيث خليفه مسلمانان دارابود ولي درطرززندگي ونشست وبرخاست وي هيچگونه تغيري روي نداد وبه همان منوال گذشته حيات بسرمي برد .

وي درمحلي بنام " سخ " درزيرخيمه اي كه ازپوست اشترتهيه شده بود مانندیك شيخ بدوي بااهل وعيال خويش خارج ازمدينه ، زندگي مي نمود . اودرهفت ماه اول دوره خلافت خود، همه روزه پاي پياده ويابه سواري اسپ، ازهمان "سخ " بمدينه آمده نمازفجررا درمسجد نبوي (ص) باجماعت اداوهنگام اداي نمازمغرب دوباره بصوب خانه خود (خيمه) عودت مي نمود . بعدازهفت ماه ، درمدينه منوره مسكن گزين گرديد . مگر بازهم دراطوارزندگي اوتغيرمهم روي نداد، خيلي بسادگي زندگي ميكرد، تنها يك غلام داشت ، كه امور وي راانجام ميدادوهنگام فراغت سلاح " شمشير ها " را تيزمي نمود .

" دي اوريئنت اندردي خلافت "

ريوبن ليوي در" دي سوشل ستركچرآف اسلام " مي نويسد :

درين هنگام حضرت عمر (رض) كه مالك شخصيت مهمي بود، بجاي خود، ابوبكر(رض) خسر محمد صلي الله عليه وسلم رابحيث خليفه مسلمين تعين نمود. لشكريكه آماده عزيمت به صوب شام بود . فيصله درمورد فرستادن ونفرستادن آنها ازاهميت خاصي برخورداربود . زيرا درآن هنگام اشد ضرورت اين بودكه بايد اين لشكرجهت سركوبي قبايل باغي ومنحرف فرستاده شود مگربرعكس تصورهمه ، خليفه اول، امروارادة حضرت پيغمبر اسلام را، برهمه ترجيح داده لشكرابشام فرستاد، تعداد اين لشكر، خيلي زياد نبود، بسرعت روانه شدند بعداز عمليات فتح بزودي برگشتند، وضع مدينه درآن حالت خيلي خراب بود . اتحادي دردوران حيات پيغمبر اسلام بنظرمي خورد، اكنون درين مسلمين تقريبا" كمتر بنظرمي آمد. ولي اين اتحاد هنگامي دوباره پديدارگشت كه ، حضرت ابوبكر (رض) جهت سركوبي باغيان وكذابان لشكري ازمجاهدين اسلام راگماشت واين لشكربعد ازعمليات موفقانه برگشت . كه ازاثرآن اتحاد باقبايل ديگرنيز بميان آمد .

دكتورالفري سرديرور (اسلام ايتندي سائيكالوجي آف دي مسلم) نوشته است :

وي (ابوبكر «رض ») انساني بودخيلي ساده پسند، باوجود ترفيع وحصول مقام فوق العاده بلند، زندگي اي فقيرانه اي رامي گذرانيد، هنگاميكه رحلت كرد، يك جوره لباس، يك اشتر، ويك نفرغلام ازوي به ميراث مانده بود .

دكتورويل در(هستوري آف دي اسلاميك پيپلز) آورده است .

حضرت ابوبكر(رض) زندگي شخصي وحكومتي خويش راطوري گذشتانده كه انگشت نهادن برآن غيرممكن است واوبهترين مثال براي انسانهاست، وحقيقت اين است كه هيچ كسي بر طرزالعمل وي انتقاد نموده نميتواند، تاوقتي ازمدرك تجارت وزراعت خود، مصرف خودواهل وعيال خويش را تأمين مينمودكه صحابه كرام (رض) وي رابگرفتن معاش ازبيت المال مجبورننمودند . باآنهم دوجوره لباس يكي براي موسم سرماويكي هم براي فصل گرماداشت . ابوبكر(رض) صديق، بارحم وانسان نيك طبع بود . افتخارجمع قرآن مجيد وحفاظت آن رابراي نخستين بارنيز به اوراجع كرده اند .

درموردعدل وانصاف ، نمونه كاملي بود براي جانشينان خويش ، اموريكه ذكرآن درقرآنكريم واحاديث نبوي (ص) نيامده بود، به مشوره علماي بزرگ اصحاب چنان تصاويب عادلانه ومنصفانه نموده كه ، تاكنون حيثيت سندمستحكمي رابراي مسلمانان دارد دردايرة المعارف برتانيكاآمده است كه !

در ٦٣٢ع يعني هنگام رحلت پيغمبر اسلام صلي الله عليه وسلم ، بي نظمي هاوپراگندگي ها امكان داشت خيلي بسرعت بروزنمايد، تقاضاي زمان واوضاع سياسي جهان آن وقت ضرورت به يك رهبرمدبرنظامي وملكي داشتكه بحيث جانشين پيغمبراسلام ايفاي وظيفه نمايد .

ولي درمورد محمد (ص) اين مورد امكان نداشت زيرا آنجناب خاتم النبيين بوده سلسله نبوت قطع شده بود . بزرگان صحابه اعم ازمهاجرين وانصار، بصورت آني وفوري حضرت ابوبكر(رض) را بحيث خليفه تعين وانتخاب نمودند، زيراوي اولين قبول كننده دين اسلام ، ياروودوست وخسر محمد صلي الله عليه وسلم بود .

كلمه اصلي خليفه ازقرآن اخذشده است ، ابوبكر(رض) لقب خليفه رسول الله رابراي خود استعمال مي نمود . درتعين وانتخاب ابوبكر(رض) اگر بواقعيت نظركنيم ، راي بزرگان اجتماع اسلامي كه درحقيقت نمايندگان امت اسلامي بودند نيز دخيل بوده است . به همين سبب بزرگان اجتماع اسلامي، امروز برحق ادعاكرده ميتوانند كه، وي به مشوره اكثريت اجتماع خود مصروف اجراي اموربود .

ابوبكر(رض) وسه نفرخلفاي بعدازوي راخلفاي راشدين مي گويند . كه نسلهاي آينده اي اسلام، اقوال وافعال واعمال آنانرا، چراغ راه خودساخته اند . اولين اجراات ابوبكر(رض) بعدازرحلت پيغمبر اسلام (ص) ، تحفظ اصليت دين واجراي اعمال واقوال آنجناب صلي الله عليه وسلم مي باشد . برخوردوي بااهل ردت باارتداد، تصاويب وي درمورد منكرين تأديه زكوة ، وكشتن مسيلمه كذاب ازاجراات درخشان وفراموش ناشدني وي درتاريخ اسلام است .

دردايرة المعارف اسلام مي خوانيم :" انسائيكلوپيدياآف اسلام"

ابوبكر(رض) انسان نيك سيرت وخيلي بارحم بود، هنگام تلاوت قرآن مجيد، ازرقت زياد اشك هاي چشمش جاري مي بود .

دخترش حضرت عايشه (رض) مي فرمايد . وقتي به پدرم اطلاع رسيدكه ، دروقت هجرت همركاب رسول الله صلي الله عليه وسلم ، است ، ازنهايت خوشي بگريه افتيده اشك شادي مي ريخت .

درراه ترقي وتشهيردين اسلام، ازصرف گرانبهاترين چيز خوددريغ نمي كرد /

دردايرة المعارف مردجاودان آمده (ج ا) (رادبوري مين انسائيكلوپيديا)

حضرت ابوبكر(رض) پدربزرگوار زوجه عزيز وگرامي، محمد(ص) بودوهمچنان جانشين وخليفه او(ص) وي ازجمله مردان مكرم مكه نيزبحساب ميرفت . اوازنخستين ايمان آورندگان به اسلام است وقتي حضرت محمدصلي الله عليه وسلم ، بمدينه هجرت فرمود وي رفيق وهمراهش بود .

بعدازرحلت حضرت محمدصلي الله عليه وسلم ، وقتي بين انصارومهاجرين مسئله جانشيني پيغمبربميان آمد، حضرت عمر(رض) ، به او (ابوبكر(رض)) بيعت نمود . اجتماع موجود درآنجانيزوي رابحيث خليفه پيغمبر(ص) پذيرفتند . دوران خلافت اواگرچه مدت دوسال واندي بود، مگردرهمين دوره نه تنها، همه شبه جزيره عرب فتح گرديد بلكه فتح ايران وشام نيز آغازيافت .

تي، دبليو، آرنلد . در (دي پراچنگ آف اسلام) نوشته است كه : ازجمله نخستين پيروان محمد (ص) ابوبكر، علي، وزيد بودند، محمد (ص) درمورد دوست عزيز ش ابوبكر (رض) مي فرمود : من هركسي راكه به اسلام دعوت نمودم ، اندكي پس وپيش گفته وباتأمل پذيرفتند غيرازابوبكر(رض) كه دعوتم رابدون ترده قبول نمود .

درابتداتاجرمالداري بود، مردم اورابخاطر اهليت وقابليت وشرافتش، نهايت احترام مي نمودند، بعدازقبول اسلام ، قسمت بزرگ سرمايه ودارائي خودرا، درخريداري غلاماني بمصرف رسانيدكه تازه اسلام آورده بودند وازجانب كفار اذيت وشكنجه مي شدند .

هانري ستوبي در(رايزايندپروگرس آف اسلام) مي آوردكه : قرآن كريم درزمان حيات پيغمبر اسلام صلي الله عليه وسلم ،بصورت يك كتاب جمع نگرديده بود، مگرجانشين اوحضرابوبكر صديق (رض) قرآن مجيد راكه به اشكال مختلف وجاهاي مختلف نوشته شده بود جمع نموده يك نقل مكمل آن رابه ام المومنين حضرت حفصه (رض) سپرد تامحفوظش بدارد .

اي آي جي روزنتهال در(اسلام ان دي مودرن نيشنل ستيت) تحرير ميدارد كه : حضرت ابوبكر صديق (رض) خليفه اول بود، اودرزندگي شخصي واجتماعي خود بطوركامل ازمحمد(ص) پيروي نمود. (رضي اله تعالي عنه)

بوريس يلتسن به هند وبريتانيا ميرود .

مسكو ١ - دلو

بوريس يلتسين رئيس جمهور روسيه دعوت بازديد ازهند وانگليس راقبول نموده است مامورين انگليسي گفتند كه انتظار مي رود يلتسين درآينده نزديك ازبريتانيا ديدن كند ولي تاكنون تاريخي براي اين باز ديد تعين نشده است .

دعوت انگليس به يلتسين درهفته جاري توسط دگلس ارد وزير خارجه انگليس به يلتسين سپرده شد. درعين حال يك آژانس خبرساني هند گفت : كه يلتسين درماه مارچ براي امضاي يك قرارداد دوستي وارد هندوستان مي شود . گفته مي شود كه مندرجات اين معاهده شامل مشورت بين دوكشور روي مسايل صلح و امنيت خواهد بود.

معرفی بعضی اشارات وعلامات قرآن مجید

علي محمد حنیف

میدانیم که قرآن کریم مطابق است به روایت حفص بن سلیمان ابن المغیرة الاسدي الكوفي، ازقرائت عاصم ابن ابي النجود الكوفي تابعي است ، و وي ازقرائت ابي عبدالرحمن بن حبیب السلمي ووي ازعثمان بن عفان وعلي بن ابي طالب وزیدبن ثابت و ابي بن كعب (رضي الله تعالي عنهم) وآنهااز رسول الله صلي الله علیه وسلم آموخته اند، عادتا مردم مسلمان افغانستان درمصاحف که طبع پاکستان بوده ،تلاوت مي نمایند وبه علامات واشارات آن ازقبیل وقف، کسره، ضمه ، تنوین وغیره معرفت دارند . ومصاحف که طبع دول عربي بوده ، مجاهدین ومهاجرین ماکمتر به آن آشناهستند بلکه شکوه وشکایت برخي ازآنهارا بگوش خودشنیده ام که علامات که درمصاحف طبع دول عربي بکاربرده شده است ، معرفت کامل ندارند، بناء برخي ازین علامات راکه درمصاحف طبع دول عربي بکاربرده شده ذیلا حضورخوانندگان محترم توضیح میدارم .

١- علامه (دایره (٥) : گذاشتن این نوع علامه بالاي حرف علت (و - ي - ا) دلالت به عدم نطق آن مي نماید، چه درحالت وصل باشد ویاوقف . مانند : (یتلواْ صحفا) سورة البینة آیت ٢ و (اۄلئك علي هدي) سورة البقرة آیه ٥ و (من نبایْ المرسلین) سورة الانعام آیه ٣٤ و(بنینها بأییْد) سورة الذاریات آیه ٤٧ وغیره .

اگر درمثال هاي فوق به دقت توجه نمائیم خواهیم دانست که الف (یتلوا) و واو (اولئك) ویا (نبإي) و (أيد) حروف علت وغیر منطوق مي باشد .

٢- علامه صفر مستطیل بشکل (٥) : این علامه معمولاً بالاي (الف) گذاشته مي شودکه مابعدآن حرف متحرك آمده باشد، این علامه دال برآنست که گویا (الف) زایداست درحالت وصل نه درحالت وقف . مانند : (أناْ خیرمنه) سورة ص آیه ٧٦ و (لكناْ هوالله ربي) سورة الكهف آیه ٣٨ .

٣- علامه رأس جاء کوچك (ح) : این علامه بالاي هرحرفي به سکون همان حرف دلالت مي نماید وباید بدانیدکه حرف مذکور اظهارکرده مي شود وازغنه کردن درآن اجتناب ورزید . مانند : (منْ خیْرٍ) و (ینْئوْن عنْه) و (قدْسمع) و (أو عظْت) و (خضْتم) وغیره .

٤- خالي بودن حرف ازعلامه سکون (ح) : هرگاه حرفي ساکن راتلاوت نمودید که هیچ علامه نداشت وبعدازآن حرف ، یعني حرف دوم آن مشدد بود، بدانیدکه حرف اول دردوم ادغام گردیده و ادغام آنرا ادغام کامل گویند مانند : (أجیبت دّعوتكما) سورة یونس آیه ٨٩ و (یلهث ذّلك) سورة الأعراف آیه ١٧٦ و (وقالت طّائفة) سورة آل عمران آیه ٧٢ و (ومن یكرههّن) سورة النورآیه ٣٣ وغیره .

اگردرهمین قرآن کریم که طبع دول عربي است درآیات فوق مراجعه گردد وقبل ازحروف مشددفوق الذکر دیده شود ، خواهید دانست که حرف مذکور ازعلامه سکون (ح) عاري بوده وبه ادغام کامل آن درحرف مابعد دلالت دارد .

٥- عاري بودن حرف ساکن ازعلامه سکون وهمچنان عاري بودن حرف مابعد ازعلامه تشدید، به ادغام ناقص دلالت دارد .

مانند : (من یقول) سورة البقره آیه ٨ درمثال فوق بالاي (نون) و(یاء) هیچ علامه شد تحریرنشده است درحالیکه (نون) در (یاء) ادغام گردیده وچون ادغام ناقص است لذا علامه تشدید بالاي مدغم فیه گذاشته نشده است . مثال (من وال) سورة الرعد آیه ١١ (فرطتم) سورة یوسف آیه ٨٠ (بسطت) سورة المائدة آیه ٢٨ وغیره .

ویااینکه عاري بودن حرف ازعلامه سکون ونیز خالي بودن حرف مابعدآن ازعلامه تشدید، به اخفاي حرف دلالت دارد . مانند : (من تحتها) سورة البروج آیه ١١ و (من ثمرة) سورة البقره ایه ٢٥ (إن ربهم بهم) سورة العادیات آیه ١١ وغیره .

٦- علامه میم صغیر که عوض حرکت دوم تنوین وعوض سکون نون ساکن مي باشد وحرف (باء) که بعد ازآن آمده باشد مشدد نباشد ، درآنصورت به اقلاب دلالت دارد یعني همان نون ویاتنوین به (میم) تبدیل شده است مانند :(علیمٌۢ بذات الصدور) سورة التغابن آیه ٤ (جزاءًۢ بماکانوا) سورة فصلت ٢٨ و (منۢبثا) سورة الواقعة آیه ٦ .

٧ - تنوین یعني (دوپیش ، دوزیر ودوزبر) به این شکل (ـٌ ، ـً ، ـٍ) به اظهارتنوین دلالت دارد . وهرگاه تنوین رابه این شکل (ـٌّ ، ـًّ ، ـٍّ) یافتید، وحرف مابعدآن مشدد باشد ، به ادغام کامل آن دلالت دارد . مانند :مثال اظهار :(سمیعٌ علیم) سورة الحجرات آیه ١ (ولاشراباً إلا) سورة النبأ آیه ٢٤ - ٢٥) (ولکل قومٍ هاد) سورة الرعد آیه ٧ وغیره .

مثال ادغام : (خشبٌ مسندة) سورة المنافقون آیه ٤ و(غفوراً رحیما) سورة الاحزاب آیه ٢٤ و (بعیدٍ ولقد) سورة فصلت آیه ٤٤ - ٤٥ وغیره واگرحرف مابعد آن مشدد نباشد به اخفاء و ادغام ناقص آن دلالت دارد مانند (وجوهٌ یومئذ) و(رحیمٌ ودود) و(شهابٌ ثاقب) دومثال اول ادغام ناقص بوده ومثال اخیر به اخفاي تنوین دلالت دارد .

٨- تحریر حروف صغیر دراین نوع قرآن مجید به حروفي دلالت داردکه درمصاحف عثماني ترك شده است، درحالیکه نطق به آن واجب است مانند :(ذلك الكتب) سورة البقره آیه ٢ و (یلوۥن السنتهم) سورة آل عمران ٧٨ (إن ولیّ الله) سورة الاعراف آیه ١٩٦ و (إلفهم رحلة) سورة قریش آیه ٢ (وکذلك نجي المؤمنین) سورة الأنبیاء آیه ٨٨ وغیره .

درآیات فوق اگردقت شود حروف صغیر وکوچك تحریرشده که نمایندگي ازحروف مي نمایدکه درمصاحف عثماني متروك شده ولي نطق به آن لازم وواجب است به همین ترتیب مثلا اگردرعین کلمه (ننج المؤمنین) در آیه ١٠٣ سورة یونس دیده شود، برخلاف آیه ٨٨ سورة الانبیاء (نون) به شکل عادي تحریر شده است واین موضوع مربوط به رسم الخط قرآن مجید است که ان شاء الله دروقت مناسب آنرا تشریح خواهیم نمود .

٩- درصورتیکه درکتابت ، بدل حرف متروك تحریرشده باشد ، قرائت ونطق به حرف مابعد (ملحق) آن صورت مي گیرد نه به حرف بدل مانند : (الصلواة) سورة البقرة آیه ٣ و(الربوٰا) سورة آل عمران آیه ١٣٠ و (التوراة) سورة المائده آیه ٤٦ وغیره .

درمثال هاي فوق الذکر به (واو) و(یاء) نطق نمیشود بلکه به الف که ملحق ومابعد آن است قرائت ونطق مي گردد .

١٠- هرگاه حرف (سین) خورد وصغیر بالاي (صاد) گذاشته شود ، باید به (سین) قرائت وتلفظ گردد مانند : (والله یقبض ویبصط) سورة البقره آیه ٢٤٥ و (في الخلق بصطة) سورة الأعراف آیه ٦٩ .

اماأگر حرف (سین) صغیردرتحت (صاد) تحریرشده بود، مشهورآنست که باید به صاد تلفظ وقرائت گردد. مانند : (المصیطرون) سورة الطور آیه ٣٧ .

١١- شکل دائره که اطراف آن نقش رسم شده است ودربین آن عدد وشماره تحریر شده است به انتهاي آیه دلالت دارد وشماره داخل آن به عدد همین آیه درهمین سورة ارتباط میگیرد .

١٢- علامه به شکل ۞ به ابتداي اجزاء، أحزاب ، أنصاف و ارباع دلالت دارد .

١٣- نگاشتن این علامه به شکل (۩) بعدازکلمه به موضع سجده تلاوت دلالت دارد . علامات حزب سجده وموضع سجده رامثلا درآیات ٤٩ و ٥٠ سورة النحل مشاهده فرمائید . ودرسوره هاي اعراف، رعد، اسراء، نجم ... نیزآنرا ملاحظه فرمائید .

١٤- نقطه که وسط آن خالي باشد به شکل (٥) به اماله دلالت دارد .

خطرناکي توطیي، مدبرجهادي قیادت پواسطه شنډیدلای شي

شمس الحق "شمس"

په تېره شلمه پیړۍ کي هغه څه چي دافغان مجاهد اولس لپاره دافتخار وړ برېښي هغه پرهغه دښمن باندي چي ځان یې په نړۍ کې په هروحشیانه عمل کې یکه تاز اوڅه ماتېدونکی باله ، بریالیتوب اوبرلاسي دي چي دخپل رب (ج) په مرسته یې ګټلي اوپه اسلامي نړۍ کي دلوړهمت خاوندان ګرځېدلي اوتروکفري ځواکونه یې هم په سره تبه اخته اود تداوي لپاره یې په رنګارنګ دسیسو اوتوطیو لاس پوري کړي چي یوه لحظه هم په کرارناست نه دي .

که څه هم دافغانانو دجهادي مقاومت په نتیجه کي دروس ماتي اوتابودیدل دترواسلام دښمنه ولو تېلو لپاره دحیرانتیا وړخبره وه اوددغسي پېښي تصور دهیڅا په مغزوکي نه ګرځېده چي دنړۍ داسي یوستر ځواک (!) چي په هیڅ شي کي کمي نه لري ، ددوي په اصطلاح دتش لاسو ولو پلاس له ناکامي اوتابودي سره مخ شي ..خو بیا هم کله چي داسلام دښمنانو دعمل په ډګرکي دتش لاسومجاهدو ځواکونو مقاومت اوشهامت په بېکاره ولیداوپردي یې باورراغی چي داولي دتسلیمیدو ندي اوخامخا به په افغانستان کي دقدرت واګي په لاس کي نیسي نوپداسي غولوونکو دسیسو اوتوطیو یې لاس پوري کړچي دجهادي فتحي کاروان یې دخپل وخت دبریالي کیدو څخه په یوڅه ځنډکي وساته اوددوي دیوي دسیسي په شنډیدو سره دبلي دسیسي پلي کول یوپربل پسي جاري ساتلي دي خودمجاهداولس لپاره ددښمنانو دسیسي یوه لوي سیندته دشګوډبند جوړولو په شان برېښي . که داسلام دښمنان هره توطیه اودسیسه دمجاهدینو دمدبرانه جهادي قیادت,تحرك په لاره کي رامخي ته کړي خوجهادي خوځنده انقلابي سیلاب به دغه مکاري دالله (ج) په مرسته له منځه وړي اوپه خپل هیواد کي به دداسي جهادي مدبرقیادت ترلارښوونې لاندي اسلامي حکومت جوړوي چي دټول ملت داعتماد او باور وړوي اودټول ملت رواغوښتنو ته ځواب وویلي شي .

داسلام دښمنه زبرځواکونو ددسیسو اوتوطیو درامنځته کیدو په لړکي پدي شپو اوورځوکي یوه بله خطرناکه دسیسه په کارلویدلي چي ډېرخلك په سکاره اوپټه ورته کارکوي ، هغه دخاین ظاهرشاه په افغان ځوریدلي ولس باندي دبیا تپل کیدو دسیسه ده چي حتي دښمنانو دومره ملي ځلي په کاراچولي چي نژدي د دپاکستان دحکومت روابط چي تل یې دمجاهدینوملاتړکړي ، اسلامي ورورولي یې ورسره کړي اومجاهدینو هم ددوي په کمك او ورورولي سترګي نه دي پټي کړي ، له مجاهدینو سره خړوپړکړي او دخپل شوم هدف بېکارې وګرځوي اوهغه نېکي هیلي او اړیکي چي دمجاهدینو اودپاکستان دحکومت ترمنځ موجودي دي دناامیدي په سیلاب یوسي دپاکستان دځینو اسلامي تنظیمونو دمشرانوچي داکثریت اولس نمایندګي کوي هغه نظریات اوغوښتني چي دافغانستان دمظلوم اوځوریدلي اولس نه ددښمنانو ددي وروستیو دسیسو دوړاندي کولو په اړه څرګندي کړي اشاره کوو دپاکستان دجماعت اسلامي مشر وروقاضي حسین احمد وایي :" ... زماپه نظرظاهرشاه نوریه افغانستان کي هیڅ رول نلري، دافغانستان دمستقبل دحل ګیلي دمجاهدینو پلاس کي ده ، داقضیه به دمجاهدینو پلاس په افغانستان کي حل کیږي، نه دروم له لاري ، ځکه چي له ډېري مودي راهیسي مجاهدین پدي خاوره کي دسرومال قرباني ورکوي ، آیاداپه صحیح وي چي ددهارلس کاله قربانیو په نتیجه کي پرمجاهدینو باندي دامریکا لاس په ثامنه توکرواکمن شي اوهم هغه څوك چي نه یې غوښتل پاکستان د ملګروملتوسازمان غړیتوب حاصل کړي اوهم هغه څوك چي نه یې غوښتل دپاکستان له یشپړې خپلواکي وروسته دغه هیواد په رسمیت سره وپیژني کله به یې دپښتو نستان مسئله رامنځ ته کوله اوګله به یې نورڅه ..." دغه رازدپاکستان پخواني سناتور، دپاکستان داسلامي نظریاتي شوري غړي اودجمعیت علماي اسلام یومشرقاضي عبداللطیف دافغانستان دبیبو په اړوند اودوروستیو حالاتو اوبدلونونو په ارتباط وایي :" دافغانستان ستونزه فقط مجاهدین حل کولاي شي اوهغوي چي هره فیصله وکړي هغه به دافغان اولس لپاره دقبول وړوي ځکه چي دافغان اولس واقعي نمایندګان همدوي دي ." همدارنګه دپاکستان دجمعیت علماي اسلام عمومي منشي مولانا سمیع الحق وېلي :" لوي ځواکونه اوبه ځانګړې توګه امریکا هڅه کوي چي په افغانستان کي خپل لاسپوڅي حکومت جوړکړي چي دظاهرشاه بیرته راغوښتل ددي لړي یوه کړي ده چي دافغان غیرتي اولس هغه ردکړي دي . امریکا هڅه کوي چي خپل په اصطلاح نړیوال نظام حاکم اوپه منځني آسیاکي داسلام دبیا ژوندي کیدو مخه ونیسي کوم چي دافغانستان دجهاد له برکته پدي سیمه کي داسلام دبیاراژوندي کیدو آثارله وراپه پکي بیکاري هغه زیاته کړي پاکستان مسلمان او میړني ولس به په دي ډول سازشونو ، توطیو ووشومو اهدافو کي شریك نشي اوددي ډول سازشونو په ناکامولو کي به خپل توان دریغ نکړي" په هرصورت ددي لپاره چي دمجاهدینواسلامي صف په خپله کړنلاره باندي دټل لپاره مستحکم اوبریالي واوسي اوددامي شومو هدفونو قرباني ونه ګرځي ، باید په خپلو کي دیووالي اووحدت لاسونه ورکړي اوخپل لوړهمت له لاسه ونه باسي ځکه لوړهمت کولاي شي چي بریالیتوب ته موورسوي . موږدټولو جهادي تنظیمونو له مشرانوڅخه په کلکه هیله کووچي داسلام ددښمنانو توطیو ته جدي پاملرنه وکړي اوتریوه ګډ مدبرجهادي قیادت لاندي دافغان مجاهدولس رهبري کړي ، یواځي مدبرجهادي قیادت کولاي شي چي ددښمنانو خطرناکي دسیسي شنډي کړي اوخپل هدف ترلاسه کړو چي څرګنده ښوني یې پدي وروستیو وختونوکي دخاین ظاهرشاه دبیاراوستو ددسیسي اوپه بن کي دسوسیال دیموکرات ګوند درهبرویلي برانت دکنفرانس جوړولو شنډېدل دي چي دمجاهدینو دمشرانو دسخت عکس العمل په نتیجه کي له ناکامي سره مخامخ شوي دي .

ظاهرشاه باید دبیاپاچاهي خیال له مغزووباسي

حسن جان حیران

اسلام دښمنه قوتونه اونړیوال کفر چي په سرکي یې امریکا ده په ډېره بې شرمي سره لګیا اوددي زیارباسي ترڅو زمونږ په ګران اوشهید روزونکي هیوادکي دیوه سوچه اسلامي نظام دجوړیدلوچي ددغه قهرمان اوهوډیالي ولس دملیونو شهیدانو اوملیونو مهاجرینو دزړه آرمان اوشعار دي خنډونه او فتني را ولاړوي . نړیوال کفراو استعمار چیان زمونږ دمومن اومجاهد ولس بې ساري قربانیو ویرولي ځکه یې خپلي پټي اوښکاره توطیي په کاراچولي . داخبره اوس تر لمر څرګنده ده چي نړیوال کفر په افغانستان کي دیوه سوچه اسلامي نظام ددوي په فکر دسیمي اونړۍ لپاره خطر بولي نوپدي شپو ورځو کي دیونیم میلیون مظلوموافغانانو قاتل ، دموجوده بد مرغیو او کړاوونو لومړي درجه مسؤل شتمنیو لوټوونکي ، خاین اوغدار شاه رامخي ته کول غواړي پداسي حال کي چي نړیوالو ته ښه څرګنده شوي چي څه موده مخکي خاین شاه دیوه خبریال دپوښتني په ځواب کي وویل : چي که افغان ولس ماوغواړي زه به افغانستان ته ولاړشم . دلته به هغه دپښتو متل په ځاي وي چي وایي :

لیوه چي ووي شي تورزاړه لمان یې وربه یادشي.

که څه هم دخاین شاه څېره له هیچا پټه نه ده په خاص ډول زمونږ دمجاهد اوقهرمان ولس له تورپېري نیولي تر سپین پېري پیاد ژانګو ترماشوم پوري دده له خاینې اوفاسدي څېري سره ښه آشنا دي. خوبیا هم غواړو دده غیراسلامي اوناوړه جنایات دېېلګي په څېر یادکړو.

هغه داچي : دکفراوکمونیزم ددروازو دپرانستلو یوازني عامل داسلام اومسلمانانو دتباهي مسؤل دبي دیني اوعیاشي درواجولو بنسټ ایښودونکي ، همداراز د بې عفتي او بربنتوتیاواجورونکي همدغه خاین شاه ؤ . مطلب داچي دغه خاین چي داسلام اومسلمانانو په ضد په خپل څلوېښت کلن دورکي کوم غېري اسلامي اوغیرشرعي ناوړه اقدامونه ترسره کړي ، زمونږ دمجاهدولس ترمنځ یې دتاریخ دثبوت پاڼي پرتي دي.

دغه خاین چي دټولواك لقب یې ځانته ورکړي و، له هیڅ ډول ناروا پټواوښکاره جنایاتو نه یې ډډه ونکړه . دګران هیواد افغانستان دآزادي اواسلامي انقلاب د خوځښت تنګبالي یې ددهمزنګ په تورو سیاچالونوکي واچول. ددغه ویاړ مني اوله افتخاره ډکي لاري ډېرلاروي یې دنیمګړي دنیا له خوږواوترخو څخه محروم اوپه شهادت یې ورسول دهیواد ګڼ شمېر علما سپین ږیري یې د خپلي غداري واکمني په وخت کي سخت تهدید کړل . چي دپلخښتي دجامع جومات دسلګونوعالمانو توهینول بېکاره بېلګه ده ، اودکفراوکمونیزم تالي ځټي چي دااوس هم زمونږدمظلوم اومجاهدولس بې ګناه خلك داوراو باروتو په بټیوکي دهغوي له لاسه سوزي په خپله غیږه کي لوي کړل ، همداراز دیته ورته نورګڼ شمېر جنایات چي قلم یې دلیکلوڅخه عاجز دي . دغه خاین دخپلي څلوېښت کلني واکمني په وخت کي ترسره کړي . ددي سره سره یې په ملي اوبین المللي دواړو سطحوزمونږګران هیواد افغانستان ته دخیانتونو اوجنایتونو پرته هیڅ کوم داسي ابتکار ندي کړي چي تاریخ یې یادکړي . دغه خاین ټول کارونه دکرملین دواکمنو په اشاره ترسره کړل .

لنډه دا چي ددغه خاین اوفاسد شاه له لاسه زمونږ مظلوم ولس له هر راز ستونزو اوکړاونو سره لاس اوګریوان شو.

خوددي ټولو فجایعو سره سره دغه خاین دخپلوغربي مشرپه انتهاپالانو سره دامریکائي باداراتو په مرسته یوځل بیاافغانستان ته "تېلي زبن " کول غواړي .

واقعیت دادي چي ظاهرشاه یوه کثیفه څېره ددین اووطن اواسلامي مقدساتو توهینوونکي دي . ده ته دبیاواکمني اجازه نه اسلام ورکوي اونه هم افغان مومن اومجاهدولس.

یواځې اویواځې لودیځ بېکیلاك اواستعماري ډلي ټپلي دي چي دغه خاین دخپلو شیطاني څېرونو اوپوله ایزو چینلونوله لاري مطرح کول غواړي په داسي حال کي چي ددغه خاین دنامه په اوریدلو باندي زمونږ مجاهد ولس ، اوپښتمن مهاجرین خپل دکرکي اونفرت اظهارکوي.

دحق اوحقیقت څېره داده چي خاین شاه به افغان ولس دمحاکمي لپاره راپولي نه دواکمني لله الحمد زمونږ واقعي جهادي ځواکونو دخپل روان اسلامي انقلاب اوجهاد په اوږدوکي دتړپال کفراواستعماري حلقو ټولي پټي اوښکاره توطیي دخپل مومنانه فراست اودرایت دوړانګو ترشعاع لاندي راوستي په ملي اوبین المللي دواړوسطحویې رسوااوشنډي کړي دي. چي بالاخره دهغوي طراحان اولاسپوڅي یې له پوره شرمنده ګۍ اورسوایي سره مخ شوي دي.

زمونږ مجاهد او قهرمان ولس دا جهاد دلوي خداي (ج) په توکل او بروسه پرته له بلي کومي اتکا او تما پیل کړي دي . چي انشاء الله په ګران هیواد افغانستان کي به دیوه سوچه اسلامي نظام تراراوستلو پوري دوام کوي . خوددي سره سره دادي ویلو چي نړیوال کفر او استعمار چیان غواړي چي زمونږ دجهاد محصول او ثمره هغه چاته په جیب کي وروواچوي . چي د هغي له لاسه نن هم مظلوم افغانان داوراو بارو توپه بټیو کي سوزي .

زمونږ مومن او مجاهد ولس ته پکار دي چي پدي حساسو شیبو کي باید پخپل فراست او درایت باندي ددي توطیو او دسیسو په کلکه مقابله وکړي چي داسلامي حکومت په وړاندي خنډونه راولاړوي.

دامریکا ددفاع وزیرسعودي عربستان غوښتنه ردکړه

دامریکي دمتحده ایالاتو ددفاع وزیرډیک چیني خبریالانوته ویلي دي دسعودي عربستان هغه غوښتنه چي دامریکي متحده ایالات یو ځل بیا په خلیج کي دقوي نه کاراواخلي . دپام وړ ده ده نیوزتامیز ویلي دي چي سعودي عربستان دامریکي دمتحده ایالاتو نه غوښتنه کړي چي د صدام حسین د نسکوریدو په غرض خپل فعالیت ته شدت ورکړي اوهمداراز غوښتنه یې کړي چي دنوموړي په نسکوریدو کي دهوایي پرغلونو نه کارواخلي اوهم دعراق مخالفینو ته زیاته وسله په لاس کي ورکړي.

چیني دامریکي تلویزیون سره په مرکه کي ویلي دي چي ورځپاڼي له حدنه وتلي خبري کړي دي.

پر افغانانو باندي هیڅوک هم خپله فیصله نشي تپلای

مصاحبه جنرال حمیدگل
ژباړه رحماني

دافغانانو وینې اوقربانۍ هسي خوشي اوراېګان نه ځي له هغه نه پوښتنه وشوه چي ستاپه نظردافغانستان راتلونکي څنګه ده ؟ جنرال صاحب وویل دافغانستان راتلونکي ډېره په زړه پوري وینم ، موږباید دافغانستان په هکله کله هم ناهیلي نه شو ، بیایي دامصرع ولوستله :

امید مرد مومن هي خداکي رازدانوں میں

دمومن انسان هیلي دخداي په رازاوهغه نه په نژدي والي کي نغښتي

ددي سوال په ځواب کي چي آیا افغانستان ته به دظاهرشاه دبیا راتلو طرحه بریالي شي هغه وویل : پرافغانانو باندي دخپلو پریکړو تپل له ډېرپخوابیل شوي ، تاسي داسلامي کنفرانس دتنظیم قراردادونه راوسپړي ، دهغه په لومړي قراردادکي هرڅه په ډاګه کیږي ، ددي پوښتني په ځواب کي چي دافغانستان دتوټې کیدو څومره احتمال اوخطر شته ، جنرال حمیدګل وویل : دافغانستان دویشلو هیڅ خطرهم نشته . زما په نظر دافغانستان دټوټه کیدو خطر اواحتمال وجود نه لري، افغاني مجاهدینو ډېري قرباني ورکړیدي، دآزادي لپاره یې دوینو په دریاب کي لامبووهلي ، د دومره زیاتوقربانیو وروسته به څنګه هغوي دخپل هیواد ویشلو ته چمتو شي .

ورځپاڼه زیاتوي جنرال حمیدګل له تقاعد وروسته ټوله ورځ دخپلو شخصي دوستانوسره په اسلام آباد کي کتني درلودي، دهغه ددي مصروفیتونو په هکله ورنه پوښتنه وشوه ، وبي ویل، نن زمازاړه دوستان زماپوښتني ته راغلي وو، ماله هغوي سره پخپل کورکي خبري درلودي ، زیاته یې کړه ، زما دتقاعد په هکله باید له بیځایه قیاسونو څخه ډډه وشي، داوطن ماته له خپل ځان څخه هم زیات ګران دي، له پوځ نه زه تقاعد شوي یم ، اوس پکارنه ده چي په دي هکله قیاسونه وشي، زمادتقاعد اصلي انګیزه اوعلتونه به ډېرژروا څرګندشي . له پوځ سره زماهیڅ جګړه اواختلاف نشته ، زمونږ پوځ دښه استعدادونو څښتن دي ، په پوځ کي اکثرخلك له ماسره مینه لري . له هغه نه تپوس وشو چي آیا په وفاقي حکومت کي ستالپاره څه وظیفه نه ده ټاکل شوي ، وبي ویل زه په دي هکله په څه نه یم خبراونه یې زه په فکرکي یم . دهغوخبرونو په ارتباط چي دجماعت اسلامي مشر قاضي حسین احمد جنرال حمید ګل په باره کي له نوازشریف سره خبري اتري کړي ، هغه داسي تبصره وکړه ، زه وړاندي خبرنه یم ، زه پخپل کورکي ناست یم ، هغه زیاته کړه خو زه دااحساسوم چي خلك له ماسره محبت کوي الله تعالي فرمایي :"زه چي له چاسره محبت کوم ، نوخپلو فرښتوته وایم چي دخلکو په زړونوکي دهغه محبت واچوي ." هغه وروسته وویل زماله پوځ اوپاهیڅ بلي اداري سره اختلاف نشته ، دااصول دي اوماداصولو خبره کړېده ، ددي پوښتني په ځواب کي چي هغه کوم اصول دي چي تاسوپه یې اساس تقاعد شوي یاست ، وویل : دا اصول به ډېر ژر په ډاګه شي .

دجنګ دېلي ورځي ورځپاڼه د جنرال حمیدګل له قوله وایي له پوځ نه زما دتقاعد لږترلږه دري سببونه دي، چي زه یې له امله تقاعد شوم ، هغه ددي لاملونو له تفصیل اوافشانه ډډه وکړه خوویې ویل چي ډېر ژر به داڅرګندشي، دجنګ ورځپاڼه لیکي : چي دجنګ دنمایندې دزیات اصرارپه وجه هغه په ډېر احتیاط اورمزیه ډول وویل، تراوسه زماڅه پنده ده ،زه خبري نه شم کولاي، هسي هم زه دډېروخبروپه رازکي شریك اوتري خبریم ، دهیواد اوملت ډېر رازونه زماپه سینه کي دي ، مناسب داده چي زه دارازونه افشا نه کړم ، له هغه نه بیاپوښتنه وشوه چي ستادتقاعد علت څه وو ؟ وبي ویل، ډېره کمه آزادي داده چي انسان بیداروي، بیداري ډېره لږ آزادي ده ، زه ددي هیواد اوملت لپاره تیارسي یم اوروم به ، هغه وویل، اوس زما دتقاعد دري لاملونه مه پوښتي، بیایي وویل مورته پکاردي چي ډېرګاوندي هیوادسره ډېري زیاتي دوستانه اړیکي ولرو، زه بیا تکراروم چي بیداري ترلږه لږآزادي ده .انسان باید تیارسي اوبیداروي، ددي پوښتني په هکله چي .... دافغانستان دستونزي په اړوندحکومت له پالیسي سره ستاڅه اختلاف وو؟ جنرال حمید ګل وویل، په دي ټولو تاسي پوهیږي، بیاله مانه پوښتنه مه کوي، هغه دنامه له اخستلوپرته وویل: دمسلمانانو بیداري هغه ځورووي ، دمسلمانانو بیداري دهغه خوښه نه ده ، مادالجزایر په حواله تاسوته ویلي وچي اسلامي جمهوریتونه هغوته ډېرتکلیف رسوي، مسلمان هیوادونه دهغوي نه خوښیږي ، " هغه اسلامي جمهوریت نشي لیدلای دادهغه په سترګوکي اغزي دي . تاسي ولیدل چي په الجزایر کي یې څه وکړل .

جنرال صاحب زیاته کړه اسلامي جمهوریت داسلام اظهاردي چي دوي یې نشي تحمل کولاي، ددي سوال په ځواب کي چي آیاستا په تقاعد کي دامریکا لاس هم شته ، دګرجنرال حمید ګل وویل : زه یوځل بیا وایم چي تاسي ته هرڅه معلوم دي ، دمسلمانانو بیداري دهغوخوښه نه ده،له هغه نه پوښتنه وشوه چي آیاداسلامي غورځنګ مشرانجنیرګلبدین حکمتیار ستادتقاعد په څنډولوکي څه رول لوبولي دي؟ جنرال حمید ګل وویل: داخبره زماپه خلاف دتبلیغاتي پروګرام یوجز دي چي زه دکوم خاص تنظیم اوشخص له حمایت نه برخمن یم اصلي خبره داده چي ماته ټول افغاني مشران مساوي ګران او عزیز دي ، زه له ټولو سره مینه لرم ، ټول له ماسره محبت کوي، بوته بلکي ټول افغاني مشران زما پلوي اوحامي دي تاسي دهرافغان تنظیم له مجاهدینو نه پوښتنه وکړي، ټول به زماپه هکله یوډول نظرڅرګندکړي .

له هغه نه پوښتنه وشوه چي دلویو صنایعوفابریکي ته ستادتبادلي اصلي انګیزه څه وه ووبي ویل پریږدي زماپه سینه کي ډېر رازونه شته ، مامه پوښتي، ما تطبیقات کول چي پیغام راورسید چي داپریږده ، زه په ډېر وشیانو خبریم چي وخت یې راشي پخپله به په ډاګه شي، زه دمسلمانانو په بیداري یقین لرم، دابیداري دآزادي اصلي روح دي، دیوه سوال په ځواب کي هغه وویل داي، ایس ، آي ته تبدیلي او اوس له پوځ نه تقاعد دواړه دیوي لړي کړي دي بیایي وویل ماخبروته مه مجبوروي بیابیا وایم چي دمسلمانانو بیداري دهغو په سترګو کي اغزي دي .

#####

ایران دکابل رژیم سره نوري مرستي ته هم تیاردي

دایران دبهرنیوچاروو وزارت مرستیال

تهران – دسلواغي ٤ نېټه :

ایران وائي چي دافغانستان ددیارلس کلني کشالي دسیاسي احتمالي حل له پاره دیوبل ابتکارخیال لري .

دایران دبهرنیوچارو دوزارت مرستیال دافغانستان دمجاهدینو دیوهیئت سره په خبروکي وویل چي دي هیله لري چي دایران نوي اقدام دافغانستان دکشالي دسیاسي حل سبب شي لیکن څه توضیحات یې ورنکړل دمجاهدینو هیئت دمولوي منصور اودمولوي موذن په مشري ایران ته تللي دي دایران دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال داهم وویل چي ایران دي ته تیاردي چي دکابل له رژیم سره نوره مرسته هم وکړي .

ده هیله څرګنده کړه چي نوراسلامي هیوادونه هم دغه شان مرسته دکابل رژیم سره وکړي .

قابل تصحیح

درشماره (١٢٧) پنجشنبه ١٣٧٠ جریدهٔ شهادت دربخش نامه هاي وارده ، بپاسخ نامه یکي ازبرادران درسطر ٧٥ ستون اخیر اشتباها قبل از بهشت درج شده لطفا آن رابه قبل ازهجرت تصحیح بفرمایید .

الحاج کشمیرخان دشهادت سره په مرکه کي

دکشمیرخان نوم به پېژندګلوي ته ضرورت ونلري، دي هغه وخت دحق دلاري له شاه زلمو سره ملګري شو چي ابله ئي شونډه توره شوي وه اواوس چي ئي په ږيره کي سپين وېر اوتور لږ ليدل کيږي توسېنه ئي په خرواروئو رازونو اواسراروډکه شويده . زه هم په دي اميد دهغوي مخي ته کيناستم چي له دغو رازونو يوځه دشهادت لوستونکو ته وړاندي کړاي شم . اودځوساعتونو په جريان کي موجهادي تاريخ په عام ډول اودکونړ جهاد په خاص ډول دهغوي له خولي واوريد . ډيري خبري وشوي او ډير سوالونه ځواب شول، خولاډيري پوښتني پاتي دي که ژوند ياري وکړه هغه به بياشي . اوس راځي چي دهغه چاخبرو ته غوږ کيږدو چي په افغانستان کي دروس پرېځو له لاس ته لومړي کلاشنکوف همده اخستي وه ، دهغه خبري له عبرتونو ډکي دي .

پوښتنه : محترم حاجي صيب ! که دمعمول مطابق ځان معرفي کړي ؟

ځواب : زمانوم فضل الرحمن اوپه کشميرخان مشهوريم . دکونړولايت داسمار دولسوالي اودشيګل ددري اوسيدونکي اوپه ١٣٥٣ کال کي دابن سينا له ليسي ته فارغ شوي يم .

پوښتنه : تاسي له اسلامي تحريک سره کله اوڅنګه رابطه اوړيکي ټينګي کړي ؟

ځواب : داد١٣٤٩ کال خبره ده ، موږ هغه وخت دکابل دابن سينا په ليسه کي وو ، لادتحريک سره موځه اړيکي نه وي پيدا شوي خودکمونستانو داعمالو اوکردارپه ليدلو به سخت خواشيني کيدلو احساسات به موراپاريدل اودابه موحس کوله چي بايد ددي خلکو مقابله وشي . توکله چي په ١٣٤٩ کال کي داسلامي تحريک په مشري له پوهنتون نه مظاهري راووتلي اوپه بيرغ مودوعتصموا بحبل الله جميعا آيت ولوست نوموږهم ورسره شول اوپه دي ترتيب مو په اتفاقي توګه له تحريک سره ارتباط پيل شو چي بيا وروسته به شهيد استاد عنايت الله دابن سيناليسي ته راتلو او وروته به ئي منظم کول .

پوښتنه : اوهجرت موکله وکړ ؟

ځواب : کله چي په ١٣٥٣ کال کي له ليسي نه فارغ شوم نو ورونو داخبر راوړچي که ځوک دتحريکي زده کړي او ورونو (پاکستان ته مهاجرشوي) دليدلو هيله لري نو دري مياشتي رخصتي دي پاکستان ته يوسي ، هماغه و چي دقوس په ١٥ مه دګړو په لارګندهاب ته اوبيا پېښورته راغلو، دلته موپوه مياشت په جهادي اوفکري زده کړي کي تيره اودجهاد په هکله ورونو پوره معلومات ترلاسه کړل اوځوک چي بيرته تلل هغوي ولاړل خوزه دمولوي صيب حبيب الرحمن شهيد اوانجنيرصيب حکمتيار په غوښتنه په پېښور کي پاتي شوم اودکونړ دتحريکي چارو په ترتيبولو اونظم بوخت شوم .

پوښتنه : دجلاد داود په ضد د ١٣٥٤کال داسلامي پاڅون په بهيرکي ستاسي ونډه څومره وه ؟

ځواب : کله چي د ٥٤ کال دعملياتو فيصله وشوه نو داسمار دعملياتو پروګرام ماته راوسپارل شو او نورو ورونوته دکونړ دنورو برخو پروګرام ورکړ شو چي په دي لړکي بواځي داسمار عمليات ترسره شول اوموږ دري کسه مشهورکمونست معلمان له مېنځه يوړل ، نژدي و چي زه دخپلو ورونو په ډزولګيدلي واي ځکه چي شپه وه اوخپل پردي نه پيژندل کيده . زموږ عمليات ترسره شول خو نور ورونه مؤفق نشول چي څه وکړي اوبيرته پېښورته راستانه شولو .

پوښتنه : مااوريدلي چي له کمونستانو نه اول کلاشينکوف تاسي غنيمت اخستي ، که په کونړ کي دجهاد په شروع اوواقعاتوئي لږه رڼا واچوي .

